
EUROPOS SĄJUNGA
Projektas yra bendrai finansuojamas iš Prieglobsčio, migracijos ir integracijos fondo 2014–2020 metų nacionalinės programos lėšų
PMIF
Prieglobsčio, migracijos ir integracijos fondas

# د پناه غوښتونکو لپاره معلومات

تاسې په لتوانیا کې د پناه ترلاسه کولو لپاره غوښتنلیک سپارلی دی، ځکه چې تاسې باور لرئ چې د تعقیب، جګړې یا تاوتریخوالي له امله بیرته خپل هیواد ته نشئ ستنیدی. د غوښتنلیک سپارلو له شیبې څخه تاسې د پناه غوښتونکی ګڼل کیږئ. دا تاسې ته ځینې ځانګړي حقونه تضمینوي، مګر د لیتوانیا جمهوریت اساسي قانون، قوانینو او نورو حقوقي مقرراتو د شرایطو تعقیبولو او مراعات کولو مکلفیت څخه تاسې نه استثنا کوي. **دا جزوه ستاسې لپاره مهم معلومات لري، نو مهرباني وکړئ ځان ورسره اشنا کړئ.**

د مسؤل هیواد ټاکلو په اړه نور تفصیلي معلومات په بله تخصصي جزوه کې وړاندې شوي دي:




## د یوه غوښتنلیک ارزولو لپاره مسؤلیت

دا حقیقت چې تاسې په لیتوانیا کې د پناه لپاره غوښتنه کړې ده د دې تضمین نه کوي چې ستاسې غوښتنلیک به دلته ارزول شي. که تاسې د اروپا اتحادیه بل هیواد کې د کورنۍ غړي لرئ، د اروپا اتحادیه بل هیواد څخه لیتوانیا ته راغلي یې یا د دغه هیواد ویزه یا د اوسیدو جواز لرئ یا مخکې مو درلود، نو بیا دغه نوموړی هیواد ستاسې د پناه لپاره د غوښتنلیک د ارزولو مسؤلیت په غاړه لري. پدې صورت کې به پریکړه وشي چې ستاسې غوښتنلیک ونه ارزول شي او تاسې مسؤل هیواد ته ولیږدول شئ، چې بیا دغه هیواد به ستاسې غوښتنلیک وارزوي. که چیرې جوته شي چې لیتوانیا باید ستاسې د پناه لپاره غوښتنلیک په اړه پریکړه وکړي، نو دا پدې معني دی چې تاسې کولی شئ لیتوانیا کې پاتې شئ او ستاسې غوښتنلیک به دلته وارزول شي. بیا به ستاسې د غوښتنلیک ارزونه سمدلاسه پیل شي.

## کله او څنګه به زه وکولی شم چې تشریح کړم زه ولې پناه ته اړتیا لرم؟

د غوښتنلیک سپارلو سمدستي وروسته به د هغه نهاد افسران چې تاسې ورته خپل غوښتنلیک سپارلی دی **لومړنی مرکه ترسره کړي**، هغه اسناد چې تاسې لرئ هغه به واخلي، ستاسې

عکس او ستاسې د ګوتو چاپ به واخلي. د دې لومړنۍ مرکې موخه ستاسې او ستاسې د کورنۍ د غړو په اړه د معلوماتو راټولول دي، او دا چې تاسې سره یوځای څوک راغلی دی، لیتوانیا ته د راتګ لاره، د یوه اروپایي هیواد مشخص کولو په تړاو ډېټا، کوم چې ستاسې د غوښتنلیک ارزولو مسؤلیت ولري، او همدارنګه د غوښتنلیک سپارلو لپاره ستاسې انګیزو او لیوالتیاو او نورو هیوادونو کې ستاسې وضعیت باندې پوهیدل.
د پناه غوښتنلیک په اړه پریکړه کولو څخه مخکې به د مهاجرت ادارې کارمندان د **بلې مرکې** لپاره تاسې سره ملاقات وکړي، د دې مرکې موخه دا ده چې تاسې فرصت ولرئ د خپلو انګیزو په اړه تفصیلي توضیحات وړاندې کړئ چې تاسې ولې د پناه لپاره غوښتنه کړې ده او همدارنګه ټول هغه اسناد وسپارئ چې تاسې یې لرئ او مخکې مو ندي سپارلي، ترڅو دغه اسناد وشي کولی ستاسې کیسه تایید کړي. د مهاجرت ادارې کارمند لپاره چې تاسې څخه پوښتنې کوي، دا یو فرصت دی چې تاسې څخه هغه لازمي معلومات ترلاسه کړي ترڅو دې خبرې ته ورسیږي چې آیا تاسې د پناه اخیستلو لپاره هغه اساسات پوره کړي دي که نه کوم چې د لیتوانیا جمهوریت قوانینو کې موجود دي، او همدارنګه د پناه غوښتنلیک په اړه پریکړې کولو لپاره نور اړین معلومات هم راټول کړي. که لازمي وي، نو د مهاجرت اداره به یوه بله مرکه هم ترتیب کړي.
که لازمي وي، د ټولو مرکو په جریان کې به ستاسې لپاره د لګښت پرته یو ژباړونکی هم شتون ولري.

## څوک او څنګه به زما غوښتنلیک وارزوي؟

د لیتوانیا جمهوریت د قوانینو مطابق، د پناه غوښتنلیک په اړه پریکړې کولو څخه مخکې، یوه توضیحي، خپلواکه او بې پرې ارزونه باید ترسره شي. د پناه لپاره د غوښتنلیک ارزول یوه پیچلي اداري پروسه ده، چې په قوانینو کې موجود تفصیلي شرح لري. ستاسې د غوښتنلیک ارزونه به ترسره شي او د مهاجرت ادارې لخوا به یې په اړه پریکړه وشي. د مهاجرت اداره به هغه معلومات و ارزوي چې تاسې سپارلي او د هغه شرایطو او اوضاع په اړه به نور معلومات راټول کړي چې تاسې د خپل غوښتنلیک اساس ګرځولي دي. کله چې ټول لازمي معلومات راټول شو د مهاجرت اداره به و ارزوي چې آیا تاسې د لیتوانیا جمهوریت د قوانینو له مخې د پناه ورکولو لپاره شرایط پوره کړي دي، او یوه مناسب پریکړه به وکړي. تاسې به د مهاجرت ادارې لخوا ستاسې په تړاو کیدونکې ټولې پریکړې ترلاسه کړئ.

## کله چې د مهاجرت ادارې لخوا پریکړې ته انتظار کووم نو زه چیرته اوسیدلی یا پاتې کیدلی شم؟

ستاسې د غوښتنلیک ارزولو جریان کې تاسې په لیتوانیا کې د پاتې کیدو حق لرئ. که تاسې خپل غوښتنلیک په پوله کې د کنترول پواینټ ته یا په ټرانزیټ زون کې سپارلی وي، نو په ځینې حالاتو کې ممکن له تاسې څخه وغوښتل شي چې د مهاجرت ادارې پریکړې لپاره په هغه نهاد کې انتظار وکړئ چیرې چې تاسې خپل غوښتنلیک سپارلی دی. غیر لدې، که تاسې وغواړئ، تاسې ته اجازه درکول کیږي چې په خپل لګښت د لیتوانیا خاوره کې پخپله انتخاب کړي موقعیت کې و اوسیږئ. که تاسې خپل د اوسیدو ځای بدل کړئ، تاسې باید سمدلاسه په

تحریري ډول د مهاجرت اداره خبر کړئ. که تاسې په خپلواک ډول په لیتوانیا کې د اوسیدو لګښتونه نشئ پوره کولی، نو د مهاجرت اداره به تاسې د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې مرکز کې میشت کړي، هغلته به تاسې نه یوازې دا چې اوسیږئ، بلکه خواړه، د کوچني لګښتونو لپاره پیسې، عاجل طبي مرسته، رواني مرسته او ټولنیز خدمات هم ترلاسه کوئ. که چیرې جوته شي چې د شخصي حالاتو یا دلایلو لپاره تاسې د زیان سره مخ یې یا ځانګړي اړتیاوې لرئ، نو تاسې ته به د دغه اړتیاو پوره کونکي شرایط برابر شي.

## آیا وکیل به زما مرکه کې برخه واخلي؟

که تاسې وغواړئ، کولی شئ وکیل ته بلنه ورکړئ چې د مهاجرت ادارې یا د لیتوانیا نورو دولتي نهادونو کارمندانو سره ناستو کې ستاسې د ګټو استازیتوب وکړي. که تاسې غواړئ چې وکیل ستاسې مرکه کې برخه واخلي، مګر تاسې د حقوقي مرستې لګښت نشئ ورکولی، نو مهرباني وکړئ د مرکې پرمخ وړونکی نهاد خبر کړئ. پدې صورت کې به تاسې ته د وکیل خدمات وړیا درکړل شي. **همدارنګه تاسې کولی شئ د غیر دولتي موسسو څخه هم د وړیا حقوقي مرستې غوښتنه وکړئ چې پناه غوښتونکو ته دا ډول خدمات او مرسته وړاندې کوي، د مثال په توګه، د لیتوانیا سور صلیب ټولنه، د دې موسسې د اړیکې معلومات پدې جزوه کې ورکړل شوي دي.** مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د وکیل برخه اخیستل په مرکه کې شخصاً ستاسې د برخه اخیستلو مکلفیت او د ټولو لازمي اسنادو سپارلو څخه تاسې نه استثنا کوي.

## آیا زه اړ یم وښیم چې زه څومره پیسې لرم؟

هو، د پناه غوښتنلیک سپارلو پرمهال تاسې باید وښیوئ چې څومره پیسې لرئ او همدارنګه په تحریري ډول د مهاجرت اداره د خپلو ټولو عوایدو په اړه د ترلاسه کولو څخه وروسته د 3 کاري ورځو په لړ کې خبر کړئ چې تاسې یې ترلاسه کوئ (په استثنا د هغه پیسو چې د پناه غوښتونکي په توګه ورکول کیږي). که چیرې جوته شي چې تاسې د هغه خدماتو لپاره کافي پیسې لرئ چې تاسې ته وړیا درکول کیږي (پشمول د استوګنې او قانوني مرستې)، نو تاسې به مکلف اوسئ چې د دولت لخوا شوي لګښتونه تادیه کړئ.

## پریکړه کول څومره وخت نیسي؟

عموماً د غوښتنلیک سپارلو نیټې څخه د 3 میاشتو موده کې د پناه لپاره غوښتنلیک ارزول کیږي او پریکړه کیږي. که چیرې ستاسې د غوښتنلیک په سم ډول ارزولو لپاره د مهاجرت اداره نور اضافي وخت ته اړتیا ولري، نو تاسې ته به پدې اړه سمدلاسه خبر درکړل شي.

## د مهاجرت ادارې سره همکاري

د مهاجرت ادارې لخوا د ارزونې کیفیت او د کیدونکې پریکړې اعتبار یوازې د ادارې د کارمندانو مسلکي وړتیاو پورې تړاو نلري، بلکه د غوښتنلیک ثابت کولو لپاره ستاسې لخوا شوي هڅو پورې هم تړاو لري. مه هیروئ چې تاسې هغه څوک یې چې زموږ څخه مو د مرستې غوښتنه کړې ده؛ نو د همدې لپاره موږ له تاسې تمه کوو چې ښه چلند وکړئ، زغم

ولرئ او د لیتوانیا قوانینو ته درناوی ولرئ. تاسې باید ستاسې د غوښتنلیک د ارزولو په جریان کې د مهاجرت ادارې سره همکاري وکړئ او په ټاکلي وخت ناستو کې برخه واخلئ، کله چې پدې اړه غږیږئ چې ولې پناه غواړئ نو صادق اوسئ او هرڅومره ژر چې ممکن وي ټول هغه اسناد وسپارئ چې ستاسې کیسه تاییدولی شي. حتی که تاسې نشئ کولی اسناد وسپارئ، نو د مهاجرت اداره به ستاسې کیسې ته لاسرسی پیدا کړي او ممکن تاسې ته د پناه درکولو پریکړه وکړي که چیرې ستاسې کیسه تفصیلي، نامتناقص، منسجم او د منلو وړ وي. که چیرې تاسې ستاسې د غوښتنلیک ارزولو په جریان کې د مهاجرت ادارې سره همکاري ونکړئ، ملاقاتونو ته ورنشئ یا د مرکو په جریان کې پوښتل کیدونکي پوښتنو ته ځواب ورکولو څخه ډډه وکړئ، مهم معلومات یا اړوند اسناد د خپل ځان سره وساتئ، جعلي انحرافي اسناد، غلط معلومات وسپارئ، په کومه بله طریقه ستاسې د کیس سمې ارزونې کې مداخله وکړئ، نو د مهاجرت اداره ممکن ستاسې د اعتبار په تړاو مناسب شکونه ولري او له همدې امله تاسې ته پناه درکول رد کړي.

## اضافي ارزونې

که چیرې د مهاجرت اداره ستاسې د عمر یا هغه خلکو سره د کورنۍ اړیکو په تړاو مناسب شکونه ولري چې تاسې سره یوځای راغلي یا په لیتوانیا کې اوسیږي، نو ممکن ستاسې د عمر معلومولو یا د ډي.این.ای ټیسټ ترسره کیدو سپارښتنه به وشي. دغه ټیسټ یا معاینه یوازې ستاسې د رضایت له مخې ترسره کیږي، خو بیاهم د دا ډول معاینې ترسره کولو څخه ډډه کول کولی شي ستاسې د کیسې ارزونې باندې منفي اغیزه وکړي.

که چیرې د پناه غوښتنې لپاره ستاسې دلایل او انګیزې فزیکي تاوتریخوالي پورې تړاو ولري چې تاسې په تیر وخت کې تجربه کړي دي، نو د مهاجرت اداره به د طبي معاینې سپارښتنه وکړي چې دا هم یوازې ستاسې د رضایت له مخې ترسره کیدی شي. که چیرې د مهاجرت اداره تاسې ته د طبي معاینې سپارښتنه ونکړي، مګر تاسې باور ولرئ چې د دې ډول معاینې پایلې ستاسې کیسه ثابتولی شي، تاسې حق لرئ چې په خپل نوښت او خپل لګښت د طبي معاینې ترتیبات ونیسئ، او همدارنګه پایلې یې د مهاجرت ادارې ته وسپارئ.

## *هغه معلومات چې ما زما غوښتنلیک کې ورکړي دي څوک ورته لاسرسی درلودلی شي؟*

حتی که څه هم د پناه لپاره ستاسې غوښتنلیک په اړه پریکړه د مهاجرت ادارې لخوا کیږي، د لیتوانیا نور دولتي نهادونه هم د پناه پروسه کې برخه اخلي، او که لازمي وي هغه معلوماتو ته لاسرسی ومومي چې تاسې په غوښتنلیک کې وړاندې کړي دي. په هرصورت، دا معلومات عام خلکو یا ستاسې هیواد ته نه ورکول کیږي. دا حقیقت چې تاسې په لیتوانیا کې د پناه غوښتنه کړې او ستاسې د غوښتنلیک انګیزې به د مهاجرت ادارې یا د لیتوانیا دولت نورو نهادونو، وکیلانو یا ژباړونکو لخوا چې د پروسې په جریان کې تاسې سره مرسته کوي افشا نشي. ټول ذکر شوي افراد او نهادونه مکلف دي چې ډاډ وړاندې کړي ستاسې لخوا وړاندې شوي معلومات محرم دي او که چیرې یې افشا کړي نو ګرم به وګڼل شي.

## *آیا زه کولی شم زما د غوښتنلیک ارزولو په جریان کې کار وکړم یا ښوونځي ته لاړشم؟*

د پناه لپاره غوښتنلیک ارزولو په جریان کې **تاسي نشئ کولی چې کار وکړئ**، څکه یوازې دا حقیقت چې تاسې غوښتنلیک سپارلی دی د کار حق نه احاطه کوي. که تاسې کوچني ماشومان لرئ یا تاسې پخپله ماشوم یې، نو مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې **ماشوم پناه غوښتونکي حق لري چې ښوونځي ته یا د حرفه ای روزنې نهادونو ته لاړ شي.** د دې حق څخه ګټه اخیستنې لپاره مهرباني وکړئ د استوګنې مرکز کې د ټولنیز کارکونکي یا د غیردولتي سازمانونو هغه استازو سره اړیکه ونیسئ چې پناه غوښتونکو سره مرسته کوي.

## ستاسې غوښتنلیک په تړاو د مهاجرت ادارې لخوا پریکړې ته انتظار

که چیرې تاسې د پناه لپاره خپل غوښتنلیک د ارزونې په جریان کې لیتوانیا څخه ووځئ یا د مهاجرت اداره د کوم بل دلیل له امله تاسې سره اړیکه ونشي نیولی، نو ستاسې د غوښتنلیک ارزونه به وځنډول شي. دا پدې معني دی چې د مهاجرت اداره به ونشي کولی چې ارزونه ختمه کړي او ستاسې غوښتنلیک په اړه پریکړه وکړي. وروسته، ممکن ستاسې د غوښتنلیک ارزونه فسخ شي، او پدې صورت کې به ارزونه له سره پیل نشي حتی که تاسې د بیرته پیل کولو غوښتنه هم وکړئ. د پناه لپاره بل نوی غوښتنلیک چې تاسې یې وسپارئ هغه به تعقیبي غوښتنلیک وګڼل شي او د سختې پروسې لاندې به وارزول شي. که تاسې فکر کوئ چې پناه ته اړتیا لرئ، نو مهرباني وکړئ د مهاجرت ادارې پریکړې لپاره انتظار وباسئ. که تاسې پریکړه وکړئ چې د مهاجرت ادارې پریکړې ته انتظار نه باسئ او د اروپا اتحادیه بل هیواد کې د پناه لپاره غوښتنه وکړئ، نو دغه هیواد به تاسې بیرته لیتوانیا ته راولیږي ترڅو دلته ستاسې د غوښتنلیک ارزونه مکمل شي.
که تاسې نور په لیتوانیا کې پناه نه غواړئ، نو مهرباني وکړئ د مهاجرت اداره په تحریري ډول خبر کړئ. پدې صورت کې به ستاسې غوښتنلیک نور ونه ارزول شي او تاسې باید خپل هیواد ته بیرته ستون شئ.

## *زه څه کولی شم که چیرې د مهاجرت ادارې لخوا شوې پریکړې سره موافقت ونلرم؟*

که تاسې د مهاجرت ادارې لخوا شوې پریکړې سره موافقت ونلرئ، نو تاسې کولی شئ د دې پریکړې ترلاسه کولو څخه وروسته د 14 ورځو په موده کې د ویلنیوس سیمه ییز اداري محکمې کې د استیناف غوښتنه وکړئ. په ښودل شوې موده کې د استیناف غوښتنه کول خورا مهم دي. د استیناف پروسې په جریان کې به تاسې د حقوقي مرستې حق ولرئ، او که لازمي وي نو د ژباړونکي خدمات به هم وړاندې شي. حقوقي مرسته پدې معنی ده چې تاسې به د وکیل درلودلو حق ولرئ، چې هغه به ستاسې اسناد چمتو کړي او په محکمه کې به ستاسې استازیتوب وکړي. که تاسې غواړئ چې د مهاجرت ادارې پریکړه باندې اعتراض وکړئ، مګر د حقوقي مرستې د لګښتونو ورکولو وړتیا نلرئ، نو مهرباني وکړئ د مهاجرت ادارې سره اړیکه ونیسئ.

## آیا زه کولی شم په همدې توګه زما د توقیف په اړه پریکړې په وړاندې د استیناف غوښتنه وکړم؟

د مهاجرت اداره د توقیف په اړه پریکړې نه کوي او د توقیف اړوند مسایل پرمخ نه وړي. که تاسي توقیف شئ، دا پدې معني ده چي دا پریکړه د محکمې لخوا شوې او یوازې محکمه کولی شي چې بدل یې کړي. که چیرې ستاسي د توقیف په تړاو د محکمې پریکړې سره تاسي موافقت ونلرئ، نو تاسي حق لرئ چې د دا ډول پریکړې په وړاندې د لیتوانیا سترې اداري محکمه کې د استیناف غوښتنه وکړئ. که ستاسي د توقیف لپاره مناسب اساساتو شتون درلود، مګر تاسي فکر وکړئ چې دغه دلایل واردمخه لیرې شوي، نو تاسي همدارنګه حق لرئ چې خپل د اوسیدو ځای کې سیمه ییزې محکمې ته غوښتنه وسپارئ چې د توقیف په اړه پریکړه له سره ملاحظه کړي. د دې پروسو په جریان کې، تاسي د حقوقي مرستې حق لرئ، او که لازمي وي د ژباړونکي خدماتو حق هم لرئ. که تاسي غواړئ چې د توقیف پریکړه باندې اعتراض وکړئ، مګر د حقوقي مرستې د لګښتونو ورکولو وړتیا نلرئ، نو مهرباني وکړئ د مهاجرت اداري سره اړیکه ونیسئ.

## د اړیکې مهم معلومات:

**د مهاجرت اداره**
*L. Sapiegos str. 1, 10312* ویلنیوس،
تلیفون: *+370 5 271 7112*
بریښنالیک: *md.rastine@vrm.lt*
*http://www.migracija.lt*

**د بهرنیانو د ثبت دفتر**
ویلنیوس سړک. 100, 18177 *Pabradė, Švenčionys*
ولسوالی
تلیفون: *+370 3 87 53401*
بریښنالیک: *urc.sekretore@vsat.vrm.lt*

**د مهاجرینو د بنه راغلاست مرکز**
*Karaliaus Mindaugo str. 18, 55283 Rukla, Jonava* ولسوالی
تلیفون:*+370 3 497 3377* ، *+370 698 48776*
بریښنالیک: *centras@rppc.lt*
*http://www.rppc.lt*

**د ویلنیوس دفتر** *A. Jakšto str. 12,*
**د مهاجرت نړیوال سازمان (*IOM*)**
*01105* ویلنیوس
تلیفون: *+370 5 261 0115*
بریښنالیک: *iomvilnius@iom.lt*
*http://www.iom.lt*
*د مهاجرت نړیوال سازمان داوطلب بیرته ستنیدو برخه کې مرسته وړاندې کوي، چې د شخص اړتیاو سره په مطابقت کې پرمخ وړل کیږي او بیرته خپل هیواد ته خوندي سفر تضمینوي. د مهاجرت نړیوال سازمان همدارنګه هغه افرادو او اشخاصو ته د بیرته یوځای کیدو مرسته هم وړاندې کوي چې په خپلو هیوادونو کې د ژوند برابرولو په برخه کې مرستې ته اړتیا لري.*

**د لیتوانیا د سور صلیب ټولنه**
*A. Juozapavičiaus str. 10A, 09316* ویلنیوس،
تلیفون: *+370 5 212 7322*، *+370 686 30 050*
بریښنالیک: *info@redcross.lt*
*http://www.redcross.lt*
*د لیتوانیا سور صلیب ټولنه حقوقي او بشري مرسته وړاندې کوي او همدارنګه د کورنۍ غړو او خپلوانو موندلو کې هم مرسته کوي*

**د لیتوانیا جمهوریت کې د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري (UNHCR) دفتر**
*A. Jakšto str. 12, 01105* ویلنیوس،
تلیفون: *+370 5 210 7416*
برېښنالیک: *kules@unhcr.org*
*http://www.unhcr.se/lt/home.html*
*UNHCR په لیتوانیا کې پناه غوښتونکو او مهاجرینو ته د پناه پروسې په اړه معلومات او مشوره او شته مرسته وړاندې کوي.*

**د ویلنیوس آرکډیوسیس کاریتاس**
*Odminių str. 12, 01122* ویلنیوس
تلیفون: *+370 5 261 1014*
برېښنالیک: *info@vilnius.caritas.lt*
*http://www.vilnius.caritas.lt*

## آیا معلومه ده چې پناه غوښتونکي کوم حقونه او دندې لري؟

د پناه غوښتونکو اصلي حقونه او دندې چې پدې جزوه کې ښودل شوي دي، د لیتوانیا جمهوریت د بهرنیانو قانوني وضعیت قانون ماده 71 په 1-3 پاراګرافونو کې راوړل شوي دي:

**ماده 71. په لیتوانیا جمهوریت کې د پناه غوښتونکي حقونه او دندې**

1. پناه غوښتونکی د لیتوانیا جمهوریت کې لاندې حقونه لري:

1) د موادو د ترلاسه کولو شرایطو کارول، کله چې د لیتوانیا جمهوریت نهادونو لخوا ټاکل شوي استوګنه، د توقیف ځایونو او همدارنګه په پوله کې او د ټرانزیټ زونونو د کنټرول پواینټونو کې اوسیږي؛

2) د خپلو حقونو او دندو په اړه د لګښت پرته معلومات ترلاسه کړي او همدارنګه د دغو سره د تبعیت نه درلودو پایلې د پناه ورکولو غوښتنلیک د ارزونې په جریان کې، او همدارنګه د پناه ورکولو غوښتنلیک د ارزونې اړوند معلومات؛

3) د پناه ورکولو غوښتنلیک د ارزونې اړوند اعتباري اسنادو اداره کول او برابرول؛

4) د کورنیو چارو وزیر لخوا شوي امر په تعقیب د دولت لخوا تضمین شوي حقوقي مرستې کارول؛

5) د پناه ورکولو غوښتنلیک ارزونې پورې اړوند د عامه ټرانسپورټ وسایلو د کارولو لپاره د تلافي ترلاسه کول؛

6) د لګښت پرته د ژباړونکي خدمات کارول؛

7) د بهرنیانو د ثبت مرکز یا د مهاجرینو د ښه راغلاست مرکز کې وړیا عاجل طبي پاملرنه، رواني پاملرنه او ټولنیز خدمات ترلاسه کول؛

8) د ټولنیز امنیت او کار وزیر او د کورنیو چارو وزیر لخوا برابر شوي طریقې له مخې د دولت تمویل شوي عاید د 10 سلنې مقدار کې د پیسو میاشتنی مرستې ترلاسه کول؛

9) د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر بورډ او نورو سازمانونو استازو لپاره غوښتنه کول، چې د پناه غوښتونکو لپاره تخصصي حقوقي مرسته یا مشورې وړاندې کوي او د هغوی سره د شرایطو له مخې ملاقات، چې د محرمیت ساتنې څخه ډاډ ترلاسه شي (پشمول د پولې یا ټرانزیټ زونونو د کنټرول پواینټونو)؛

10) د زیان لیدونکي اشخاصو په توګه ټاکل کیدو وروسته د ښه راغلاست شرایطو کارول، چې د هغوی اړوند ځانګړې اړتیاوې پوره کړي؛

11) د ښه راغلاست نورو شرایطو او حقونو کارول، کوم چې پناه غوښتونکي ته د لیتوانیا جمهوریت د نړیوال تړونونو، قوانینو او نورو حقوقي مقرراتو په تعقیب تضمین شوي وي.

2. هغه پناه غوښتونکي چې ماشومان دي، د تعليم او ساينس وزير لخوا د شوي امر په تعقيب بايد په ښوونځيو، د عمومي تعليم يا حرفه ای زده کړې برنامو کې د زده کړې حق ولري. دا حق بايد سمدلاسه تضمين شي او د پناه ورکولو لپاره د غوښتنليک سپارلو ورځې څخه تر 3 مياشتي څخه ډيرې مودې پورې بايد ځنډ نشي. يو پناه غوښتونکی چې د ماشوم په حيث يې تعليم او زده کړه پيل کړې ده، حق لري چې عمومي تعليم يا حرفه ای زده کړه پای ته ورسوي، حتی که پدې صورت کې هغه د زده کړې پرمهال بالغ هم شي.

3. د پناه غوښتونکي دندې:
1) د ليتوانيا جمهوريت اساسي قانون، قوانين او نور حقوقي مقررات په پام کې ونيسي؛
2) د مهاجرت اداري او محکمي لخوا د پناه غوښتونکي لپاره وضع شوي دندې بشپړې کړي؛
3) د روغتيايی معاينې ترسره کيدو اجازه ورکړي؛
4) د پناه ورکولو لپاره غوښتنليک انګيزو او دلايلو په تړاو ټول موجود او واقعی اسناد او بشپړه توضيح وسپاري، همدارنګه د پناه غوښتونکي د شخصيت په تړاو او د ليتوانيا جمهوريت ته راتګ او دلته پاتې کيدو د شرايطو په تړاو او د پناه غوښتنليک د ارزونې پروسې په جريان کې د اړوند نهادونو ملکي کارکونکو او کارمندانو سره همکاري وکړي؛
5) د هغه دولتي نهاد يا سازمان د پوښتلو پرمهال چې د پناه ورکولو لپاره يې غوښتنليک ترلاسه کړی دی، په آزاد فارميټ کې په تحريري ډول په ليتوانيا جمهوريت کې خپلې سرچينې او شتمنی اعلام کړي او همدارنګه د مهاجرت ادارې ته په آزاد فارميټ کې په تحريري ډول خپلې هغه شتمنی او فنډونه اعلام کړي چې د هغه مودې په جريان کې يې ترلاسه کړي چې د ليتوانيا جمهوريت کې د پاتې کيدو حق ورکړل شوی و او د دغه شتمنيو او پيسو ترلاسه کولو وروسته د درې ورځو موده کې بايد دا کار وکړي؛
6) که چيرې د مهاجرت ادارې پريکړه کړې وي چې پناه غوښتونکي ته اجازه ورکړي چې د خپلې خوښې ځای کې استوګن شي نو که چيرې د هغه د استوګنې ځای کې بدلون راځي بايد په اړه يې سمدلاسه د مهاجرت اداره خبر کړي.

نور حقونه او دندې چې پدې جزوه کې ذکر شوي دي د همدې قانون ماده 22 پاراګراف 1 کې[1]، د ماده 67 پاراګراف 3 کې، د ماده 71 پاراګراف 5 کې، د ماده 82 پاراګراف 3 کې[1]، د ماده 117 پاراګراف 1 کې، د ماده 118 او ماده 136 پاراګراف 1 کې شتون لري.

**دا جزوه د پناه ورکولو طرزالعملونو، د پناه غوښتونکو اصلي حقونو او دندو او همدارنګه د دغه دندو سره تبعيت نه کولو لپاره ممکن پايلو په اړه د معلوماتو لنډيز لري. د دې جزوې يوازينۍ موخه د معلوماتو وړاندې کول دي، او دا پخپله کوم حقونه يا حقوقي او قانوني مکلفيتونه نه رامينځته کوي/نلري. که تاسې پدې جزوه کې ورکړل شوي معلوماتو اضافي تشريح ته اړتيا لرئ يا غواړئ ستاسې د غوښتنليک ارزونې په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ، نو مهرباني وکړئ د مهاجرت ادارې سره اړيکه ونيسئ.**